موضوع الخطبة: خطبة مختصرة – عشر وقفات مع عيدالفطر

الخطيب: فضيلة الشيخ ماجد بن سليمان الرسي – حفظه الله –

لغة الترجمة: البشتو

المترجم: سعيدالرحمن بن كل أحمد

الإيميل: saeedurrahman64@gmail.com

قناة تليجرام: https://t.me/kutbatjumahpashto

## د خطبې موضوع: د کوچني اختر په اړه لس درسونه

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبد الله ورسوله. أما بعد: فإن أصدق الحديث كتاب الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

**١ .اې د الله بندګانو! د الله تعالی ښه داسې وویرېږئ لکه څنګه چې د هغه د وېرې حق دی، او د اسلام رسی ټینګه ونیسئ. د رمضان میاشتې د بشپړېدو پر نعمت د الله شکر وباسئ؛ څکه دا ـ په الله قسم ـ ستر نعمت دی. ستاسو رب فرمايي:**

﴿وَلِتُكْمِلُوا۟ ٱلْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾

او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بيان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدايت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

**نو مونږ شمېر پوره کړ، الله مو لوی وباله، او اوس راباندې د شکر د ادا کولو عبادت پاتې دی.**

٢ .اې مسلمانانو! **الله رښتيا فرمايلي دي چې:**

﴿أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ﴾

يو څو ورځې شمېرل شوې.

**څومره ژر هغه ورځې تېرې شوې او پای ته ورسېدې! ايا پرې پوهه شوی چې څنګه لاړې؟ او ايا پوهه شوی چې څنګه پای ته ورسېدې او تېرې شوې؟**

**٣. اې مؤمنانو! تاسو ته دې مبارک وي؛ څکه توله مياشت مو روژه ونيوله، تاسو ته دې مبارک وي؛ څکه شپې مو په عبادت تېرې کړې، او تاسو ته دې مبارک وي؛ څکه تر پای پورې ورسېدئ؛**

حال دا چې داسې خلک هم وو چې وفات شول او د دې میاشتې تر پای ونه رسېدل. نو د الله د نعمتونو شکر ادا کړئ.

۴. اې مسلمانانو! دغه خوشالي چې د اسلام د روژې د رکن په ترسره کولو په پای کې راځي چې اختر دي؛ تاسو ټولو ته دې مبارک وي، په داسې حال کې چې تاسو د الله لوی وایي یعنې تکبیرات، د هغه یووالی منئ او درناوی یې کوئ. د الله په اذن ستاسې درجات لوړ شول، ګناهونونه مو وبښل شول.

۵. اې د الله بندګانو! د الله له حکمتونو څخه دا ده چې موږ ته یې د دوو سترو عبادتونو له بشپړېدو وروسته دوه اخترونه مشروع کړي دي: د فطر (کوچنی) اختر د روژې تر بشپړېدو وروسته، او د قربانۍ (لوی) اختر د حج د فریضې تر ادا کولو وروسته راځي. زموږ اخترونه دین او عبادت دی؛ لمونځ او تکبیر دی، د نفس پاکوالی او د فطر صدقه ده، خوښي او د خپلوانو سره اړیکه ده، ملاقاتونه او یو بل سره د مینې او محبت څرګندونه ده، د تېرو تېروتنو بښنه او د اړیکو بیا رغونه ده، او د کینو او بدګمانیو له منځه وړل دي. نو چا چې له خپلوانو یا ملګرو سره زړه بداوی یا پرېکون وي، باید د اختر ورځ د اړیکو د رغولو، بېرته نږدې کېدو او زړونو ته د خوښۍ ور اچولو فرصت وګرځوي.

۶. اې مؤمنانو! دا اخترونو دا خوښي دې تاسو ته مبارک وي، دا خترونه د نورو خلکو د مشرکانو او ګمراهانو د اخترونو په څیر نه دي، چې د هغوی اخترونه یوازې د ګناه او له الله څخه د لا لرې کېدو سبب ګرځي.

اې د الله بندګانو! د دې رحمتونو په راتګ خوښي وکړئ؛ څکه الله تعالی فرمایي:

﴿قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ﴾

ته ووایه: د الله په فضل سره او د هغه په رحمت سره، لهذا په دې سره دې دوی خوشحاله شي.

او له الله څخه د نورو نعمتونو غوښتنه وکړئ.

۷. اې مسلمانانو! په دې ورځ ځانونه سنبال کړئ، ځانونه ښکلي کړئ او خوشبویي وکاروئ، امام مالک رحمه الله ویلي: ما د اهل علمو څخه اورېدلي دي چې د اختر لپاره خوشبویي کارول او ځان ډولي کول مستحب دي[1].

۸. اې مؤمنانو! خپل کورونه او زړونه پرانیزئ، یو بل ته د رمضان د علمونو د قبلېدو دعا وکړئ، او یو بل ته مبارکي ورکړئ؛ څکه صحابه کرامو به یو بل ته ویل: «تقبل الله منا ومنك» (الله دې زموږ او ستاسې عبادتونه قبول کړي).

۹. اې مسلمانانو! څه چې مخکې تیر شوي، یو بل ته د هغې بښنه کول له غوره عبادتونو څخه دي، او الله تعالی پرې بې حسابه اجر ورکوي، الله فرمایي:

---

(۱) شرح البخاري لابن رجب (۶۸/۶)، ط ابن الجوزي – الدمام.

﴿فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ﴾

**نو هغه څوك چې معافي وكړي او اصلاح وكړي نو د ده اجر په الله دى.**

**الله د اجر وعده كړې، خو اندازه يې نه ده ټاكلې، چې هغه ستر او عظيم ذات دى.**

**اې مؤمنانو! د نفس اصلاح او تزكيه له غوره عبادتونو څخه ده، او الله تعالى پرې د بريا وعده كړې ده، فرمايي:**

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا﴾

**چې يقينًا كامياب شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې پاك كړ، او يقينًا نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې په خاورو كې پټ كړ.**

**اې د الله بندګانو! د اختر د خوښۍ له بشپړېدو څخه دا هم ده چې ټولنيزې اړيكې اصلاح او پياوړې شي، او زړونه د كال په اوږدو كې له راجمع شويو كينو او بديو څخه پاک شي. هغه چا ته دې مبارک وي چې د اختر له دې وخت څخه ګټه واخلي، او بيل شوي مېرمن او مېړه ترمنځ سوله وكړي، هغه لري شوي زړونو ترمينځ يې مينه محبت بيا راولي، او د يوې كورنۍ د هغې د اولادونو د خوښۍ سبب وګرځي، يا يو بل ته قتل وبښي، او يا د خپلوانو ترمنځ پرېكون ختم كړي.**

**اې الله ستا لپاره ډېر حمدونه دي چې په موږ دې دا نعمت وكړ چې د رمضان مياشت دې په موږ راوسته، اختر دې راوستو، دا زموږ لپاره سبب وګرځوه چې ستا اطاعت وكړ، او موږ ته ستا محتب او د هغه عمل محبت راكړي چې موږ تا نږدې كوي.**

**أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه إنه هو الغفور الرحيم**

## دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

**۱۰. اې د الله بندګانو! يوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې ستره او ريښتينې خوښي هغه ورځ ده چې مونږ له نېکو اعمالو سره د الله جل جلاله حضور ته ورسېږو. هلته به الله تعالى وفرمايي: الله تعالى به جنتيانو ته غږ وکړي، هغوی به عرض وکړي: اې زمونږ ربه! حاضر يو او ستا اطاعت ته ولاړ يو. الله به وفرمايي: ايا تاسو راضي ياست؟ هغوی به ووايي: ولې به راضي نه يو، حال دا چې تا مونږ ته داسې نعمتونه راکړي چې ستا له مخلوقه دې بل هېچا ته نه دي ورکړي؟ الله به وفرمايي: زه تاسو ته له دې هم غوره نعمت درکوم. هغوی به ووايي: اې ربه! له دې هم غوره څه شی شته؟ الله به وفرمايي: زه له تاسو راضي يم، له دې وروسته به هېڅکله پر تاسو ناخوښه نه شم(١).**

**۱۱. اې مؤمنانو! رمضان د سمې لارې د خپلولو او د الله سره د اړيکو د پياوړتيا زرين فرصت دی، داسې اړيکه چې بايد تلپاتې وي؛ نو راځئ عبادت ته دوام ورکړو؛ ځکه عبادت د رمضان په پای ته رسېدو نه ختمېږي، بلکې د انسان تر مرګه دوام لري:**

﴿وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ﴾

**او د خپل رب عبادت کوه تر هغه پورې چې تا ته يقين (مرګ) راشي**

**او رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ته تر ټولو خوښ عمل هغه دی چې دوام پرې وشي، که څه هم لږ وي(٢).**

**اې مسلمانانو! له رمضان وروسته پر نېکو اعمالو دوام کول د توفيق او د عمل د قبلېدو نښه ده، خو که څوک عبادت يوازې د موسمونو پورې محدود کړي، دا د علم د کمښت او د توفيق د نشتوالي نښه ده، د رمضان رب، د ټولو مياشتو رب دی، له سلفو څخه له يوه کس څخه پوښتنه وشوه چې د هغه چا په اړه څه وايې چې په رمضان کې عبادت ته ډېره هڅه کوي خو له هغه وروسته يې پرېږدي؟ هغه وويل: ډېر بد خلک دي، چې الله يوازې په رمضان کې پېژني.**

---

(١) رواه البخاري (٦٥٤٩) ومسلم (٢٨٢٩) من حديث أبي سعيد الخدري رضي الله عنه.

(٢) رواه البخاري (٥٨٦١) عن عائشة رضي الله عنها.

**اې مؤمنانو! د مسلمان له غوره صفتونو څخه يو دا دی چې د «قانتينو» له ډلې وي. قنوت يعنې پر عبادت ټينګ پاتې کېدل او دوام کول دي. الله تعالی هغه کسان ستايلي چې په قنوت متصف وي، فرمايي:**

﴿إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾

**بېشکه مسلمانان او مسلمانانی او مومنان او مومنانی، او اطاعت کوونکی او اطاعت کوونکی او صادقان (رښتينی) او صادقانی او صبر کوونکی او صبر کوونکی اوعاجزي کوونکی او عاجزي کوونکی او خيرات کوونکی او خيرات کوونکی او روژه نيونکی او روژه نيوونکی او د خپلو شرم ځايونو حفاظت کوونکی او حفاظت کوونکې او الله لره ډېر يادوونکي او يادوونکې، الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر تيار کړی دی.**

**۱۲. اې د الله بندګانو! د رمضان له روژې وروسته د شوال شپږ ورځې روژه نيول مستحب سنت دی، او الله تعالی پر دې ستر اجر مرتب کړی دی. لکه څنګه چې د ابو ايوب رضي الله عنه په حديث کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې د رمضان روژه ونيوله، بيا يې ورپسې د شوال شپږ ورځې روژې ونيولې، هغه داسې دی لکه ټول کال يې چې روژه نيولې وي[1].**

**همدارنګه، د شوال د شپږو روژو له مهمو حکمتونو څخه يو دا دی چې د رمضان د فرضي روژو نيمګړتياوې جبرانوي؛ ځکه روژه دار انسان له تېروتنو او ګناهونو خالي نه وي، نو نفلي روژه د همدې کمښت جبران کوي.**

**له دې وروسته، دا لس مهم ټکي دي چې مسلمان يې بايد په کوچني اختر کې په ياد ولري، تر څو يې اختر يوازې دود او رواج نه وي، بلکې عبادت وي.**

**اې الله! زموږ ګناهونه او اسراف وبښه، اې الله! موږ د هغو بندګانو له ډلې وګرځوه چې له اوره دې ازاد کړي وي، اې الله! جنت ته موږ داخل کړه، او جنة الفردوس زموږ د اوسيدو ځای وګرځوه، موږ بې له حسابه او بې له عذابه جنت ته داخل کړه، اې کريمه، اې وهاب ذاته!**

---

(۱) رواه مسلم (١١٦٤) عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه.

**اې الله! موږ له اوره خلاص کړه، او موږ له خپلو ګناهونو داسې پاک کړه لکه په همدې ورځ خپلو میندو زېږولي یو، اې الله! زموږ دا غونډه په داسې حال کې سره بېله کړې چې ګناهونه مو ښنل شوي وي، عملونه مو قبول شوي وي، او هڅې مو منل شوې او قدرداني شوې وي.**

**اې الله! زموږ دا وطن او د ټولو مسلمانانو هیوادونه په امن ډاډمن، سوکاله او هوسا کړه، اې الله! زموږ اختر د خوشالي او ژوند مو هوسا او آرامه وګرځوه، د عبادتونو او برکتونو موسمونه بیا بیا په موږ راوله، په داسې حال کې چې موږ او ټول مسلمانان په روغتیا، عافیت او امن کې یو.**

**اې الله! له رمضان وروسته مو هم پر نېکو عملونو ټینګ وساته، د عبادت کوونکو او فرمانبردارو له ډلې وګرځوه، اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر کورنۍ درود راولیږه.**

سُبْحَانَ ربنا رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُون، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِين، الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِين.

**د خطبې تیاروونکی: ماجد بن سلیمان الرسي، د ۱٤٤۲ کال، د شوال د میاشتې پیل، د الجبیل ښار، سعودي عربستان، واتس: ۰۰۹٦٦٥۰٥۹۰٦۷٦۱**